دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مســــــتقل انتخابات

دافغانستان اسلامـــي جمهوری دولت
د ټــاکنــوخپلـــواک کمیسیـــون

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه لیک

| | |
|---|---|
| **شمېره:** | 40- ۱۳۹۳ |
| **موضوع:** | د رأیي ورکوني د 2774 محلونو د رأیو د تفتیش پایلي؛ |
| **ځانګه:** | د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشاء |
| **د غونډې نېټه او ځای:** | د ۱۳۹۳ کال د وږي5مه، (د ۲۰۱۴ کال د اکست ۲۷ مه) د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر. |
| **حاضر غړي:** | ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستاني، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، آغلې ګلالۍ اڅکزی، ښاغلی سرير احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی محمد عزیز بختیاري، ښاغلی قاضي سلیمان حامد، آغلې لیلا احراري او آغلې شریفه زرمتی وردک. |

د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمیسیون د صلاحیتونو، دندو او تشکیل قانون د ۱۳ مې مادې، د ټاکنو قانون د ۵۸ مې مادې د حکمونو او د خپلو ۳۳ او ۳۷ شمېره پرېکړه لیکونو پر بنسټ ټاکنو خپلواک کمیسیون د رأیي ورکوني د۲۷۷۴ محلونو رأیو د تفتیش د پایلو په اړه ، په څلورو کټګوریو کې چې لړلیک ( فهرست) او ځانګړني يې له دغه پرېکړه لیک سره ضمیمه دي، په لاندې توګه پرېکړه وکړه:

۱ . د رأیي ورکوني ۱۸۵۳ محلونه چې د تفتیش په پایله کې هیڅ ډول بې نظمي او ستونزه په کې ونه لیدل شوه،نورمال دي، کومه ستونزه نه لري او پروسس دي شي؛

۲. د ۴۹۸ محلونو رأیي د بېلابېلو دلایلو له امله په ۳۳ شمېرې پرېکړه لیک کې د وړاندې شویو معیارونو په پام کې نیولو سره چې په لاندې ( ۷ ) برخو کې بیاشمېرل شوي، د پایلو نوې فورمې دې يې د بیاشمېرنې په بهیر کې شاملې شي:

1. . د رأیي ورکوني ۴۶ محلونه دې په صندوقونو کې د پایلو فورمو د کاپي نشتوالي او یا هم د لاسوهنې د شواهدو د شتون له امله بیا وشمېرل شي.

2. د رأیي ورکوني ۱۸۳ محلونه دې په پایلو فورمو کې له ۶۰۰ څخه د زیاتو رأیو د ثبت له امله بیا وشمېرل شي.

3. د رأیي ورکوني ۷ محلونه دې د پایلو د اصلي فورمو او صندوق دننه د پایلو فورمو د کاپي تر منځ د توپیر له امله بیاوشمېرل شي.

4. د رأیي ورکوني ۱۲ محلونه دې د رأیي ورکوونکیو لیست د سپین والي او یا په لیست کې له ۱۰ څخه د زیاتو پرله پسې شمېرو د ثبت له امله بیاوشمېرل شي.

5. د رأیي ورکوني ۹ محلونه دې له دې امله بیاوشمېرل شي چې صندوقونه يې دومره مات وو او یا يې مهر او لاکونه دومره سست وو چې لاس په کې دننه کیدای شوای.

6. د رأیي ورکوني ۱۶۷ محلونه دې له دې امله بیاوشمېرل شي چې دوه یا له دوو څخه زیات مهر او لاکونه يې مات او تخریب شوي او یا د درغلی ښکاره نښې په کې لیدل کېږي؛ او یا یې هم د دوو او یا دوو څخه د زیاتو مهر او لاکونو شمېرې د رأیي ورکوني صندوق دننه د مهر او لاکونو د ثبت فورمې له شمېرو سره ورته والي او مطابقت نه لري.

7. د رأیي ورکونو ۷۴ محلونه دې له دې امله بیاوشمېرل شي چې کم له کمه ۲۰ رأیپاڼې يې ورته نښه شوي او یا د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوي.

۳ . د رأیي ورکوني د ۶۴ محلونو ټولې رأیې دې د کمیسیون په ۳۳ مه شمېره پرېکړه لیک کې د وړاندې شویو معیارونو په پام کې نیولو سره په لاندې ۶ برخو کې باطلې شي:

1. د رأیي ورکوني یو محل دې له دې امله باطل شو چې ډول یا بڼه یې هغسې نه وه چې د کمیسیون له خوا د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور له پاره وېشل شوې وو.
2. د رأیي ورکوني ۴۰ محلونه له دې امله باطل شول چې په صندوقونو کې یې هیڅ رأیې پاڼې نه وې موجودې، یا یې رأیي پاڼې مهر شوې نه وې، یا ټولې رأیې پاڼې د طرزالعمل مطابق نه وې نښه شوې، یا ټولې په ورته بڼه نښه شوې او یا هم ټولې رأیي پاڼې له کندې څخه نه دي بېلې شوې.
3. د رأیي ورکوني ۱۲ محلونه له دې امله باطل شول چې د رأیي ورکوني محل په ژورنال کې د زور زیاتي، جګړې او د کمیسیون د کارکوونکیو له کنترول څخه د ټاکنیزو توکیو له لاسه وتلو په اړه ریپورټ ورکړل شوی وو.
4. د رأیي ورکوني یو محل له دې امله باطل شو چې د رأیي ورکوني لیست یې ورک یا سپین وو او یا هم ۳۳ سلنه رأیي پاڼې یې مهر شوې نه وې، یا د طرزالعمل مطابق نه وې نښه شوې، یا په ځرګنده توګه ورته نښه شوې او یا هم له کندې څخه نه دي بېلې شوې.
5. د رأیي ورکوني یو محل له دې امله باطل شو، چې صندوق یې دومره مات او تخریب شوی وو چې لاس په کې ننوت او یا هم د پایلو په فورمه یا د رأیي پاڼو په بنډل کې یې د ښکاره لاسوهنې شواهد موجود وو.
6. د رأیي ورکوني ۹ محلونه له دې امله باطل شول چې د صندوق د شاوخوا دوو یا له دوو څخه زیاتو مهر او لاکونو شمېرو په صندوق کې دننه د مهر او لاکونو د ثبت فورمې له شمېرو سره سمون نه درلود او د پایلو په فورمو او د رأیي پاڼو په بنډولو کې یې د لاسوهنې ښکاره شواهد موجود وو.

۴ . له ۲۷۴ محلونو څخه چې د چیک لیست د ۱۶ شمېرې پوښتنې په پام کې نیولو سره د تفتیش په ځانګړې کټګورۍ کې راتلل، ۲۶۳ محلونه یې بیاوشمېرل شول، د پایلو نوې فورمې یې د بیاشمېرنې په بهیر کې شاملې او ۱۱ نور دې باطل شي.

| د پرېکړې موافق | د غړیو نومونه | د پرېکړې مخالف |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستاني | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلې ګلالۍ اڅکزۍ | |
| | ښاغلی سریر احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني | |
| | ښاغلی محمد عزیز بختیاري | |
| | ښاغلی قاضي سلیمان حامد | |
| | آغلې لیلا احراري | |
| | آغلې شریفه زرمتۍ وردک | |